دقربانۍ مهم مسائل په 15 سؤالونوکي



# د قربانۍ مهم مسائل

## دسوال جواب په طریقه

Ketabton.com

مؤلف:

الشیخ أبو یوسف نجیب الله سلیم

حفظه الله ورعاه



(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين،نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلي يوم الدين أمابعد: دايوه مختصره رساله ده چې مشتمله ده په بعضومهمو مسائلو د قربانۍ او آداب د اخترباندې په طريقه د سوال جواب سره، الله تعالى نه أميد لرم چې مسلمانان ترې مستفيد شي اوزمونږ لپاره يوه صدقه جاريه شي.

## «١» سوال: قربانۍ كول سه حكم لري؟

جواب: پديكې دوه قوله دعلماؤ دي.

أول: دبعضو علماؤ په نيزباندې واجبه ده.

دويم: دجمهورو (يعني دډيرو) علماؤ په نيز باندې سنت مؤكده ده او واجبه نده، أو دا دإمام مالك، إمام شافعي أوإمام أحمد رحمهم الله قول هم دى. أو دا قول راجح هم دى، خودا مقام د تفصيل ندى چې دلائل ئې ذكر كړو، ليكن دسنتيت مطلب به دا نوى چې مسلمان به پرى اهتمام نه كوى، بلكې دغه يې شرعي حيثيت دى، ورنه اهتمام كول به پرى دمسلمان شعار وى، كله چې توان لرونكې وى، ځكه فضيلت اوثواب يې ډير زيات راغلى دى. وگوره للتفصيل المحلى لابن حزم (9/3) كتاب الأضاحي. والمغني لابن قدامه (425/8).

## «٢» سوال: د قربانۍ دپاره څه شرطونه دي؟

جواب: اول : دا به د بهيمة الأنعام څخه وى يعني (اوښ) (غوا، غوئى، ميخه) (گډ، گډه) (بزه، پسه) او پدي باندى إمام قرطبي په خپل تفسير(72/15) كې د مسلمانانو إجماع نقل كړى ده فرمائى: ( وَالَّذِي يُضَحَّى بِهِ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِينَ الْأَزْوَاجُ الثَّمَانِيَةُ : وَهِيَ الضَّأْنُ وَالْمَعْزُ وَالْإِبِلُ وَالْبَقَرُ). همدغه خبره ابن القيم په زاد المعاد( ٣/٣١٢ ) أو امام سرخسي په المبسوط( 29/12 )كې كړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم شرط : قرباني به غابن او معتبرعُمْر ته رسيدلی وي:

اودهغي پيژندنه په غابن أو عمر سره کيږي .

د اوبن دپاره شرط دادی چې پنځه کلن به وي أوشپږم کال کي به داخـل شـوی وي .

دغويين مال دپاره شرط دادی چې دوه کلن به وی او دريم کال کـي بـه داخـل شوي وي .

دبزين مال دپاره شرط دادی چي يوکلن به وی اوپه دويم کال کي بـه داخـل شوي وی .

او دګډين مال دپاره شرط (په راجح قول سره) شپږ مياشتی دي چي أومه کې بـه داخل شوي وي . وګوره للتفصيل المغنى لابن قدامه( ۴۴۰/۹ ) والروض المربع للبهوتی( ۲/ ۱۳۷).

دريم شرط : په خپل وخت باندې کول چـې هغـه داختـر لمـونځ نـه بعـد شروع کيږي ترڅلورمي ورځ د اختر پورې .

څلورم شرط : سلامتيا دهغه عيوبو (نقصاناتو)څخه چې شرعاً معتبروي .

او هغه په إجماع د أمت سره څلور عيوب(نقصاناته) دي کوم چي پـه حـديث د البراء بن عازب رضی الله عنه کي ذکر شوی دي هغه فرمائي: ( قَـامَ فِينَـا رَسُـولُ اللَّـهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : أَرْبَـعٌ لَا تَجُـوزُ فِي الضَّـحَايَا : الْعَـوْرَاءُ الْبَـيِّنُ عَوَرُهَـا وَالْمَرِيضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا ، وَالْعَرْجَـاءُ الْبَـيِّنُ ظَلَعُهَـا ، وَالْكَسِـيرُ الَّتِـي لَا تُنْقِـي). رواه الترمذي (203/2 ) وقال الشيخ الألباني إسناده صحيح. إرواء الغليل ( 360/4ح 1148).

ژباړه : صحابي فرمائي: نبي عليه السلام پـه مـونږ کـي ودريـده، أو وي فرمايـل: څلور عيوب (نقصانات) دي چې په هغي سره قربانی نه صيحيح کيږي.

1 نقصاني سترګو والا چې نقصان ئې ښه ښکاره وي .

2 هغه مريضه چې مرض يی ښه ښکاره وي .

3 هغه ګوډه چې ګوډ والی ئی ښه ښکاره وي .

4 ډيره خواره وچه چې غوښه يکي نوي .

**فائده:** علماؤ هغه عيوب(نقصانات) هم پـدي څلـورو بانـدې قيـاس کـړی دي کوم چې د دي څلورو عيوبو سره مساوي اويا ترې زيات وی مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړنده وي يا لَمْ، خپه وغيره يې کټ وي. لکه إمام نووي رحمه الله فرمايلي: ( وَأَجْمَعُوا عَلَى أَنَّ الْعُيُوبَ الْأَرْبَعَةَ الْمَذْكُورَةَ فِي حَدِيثِ الْبَرَاءِ لَا تُجْزِئُ التَّضْحِيَةُ بِهَا، وَكَذَا مَا كَانَ فِي مَعْنَاهَا أَوْ أَقْبَحَ مِنْهَا كَالْعَمَى وَقَطْعِ الرِّجْلِ وَشِبْهِهِ). شرح مسلم للنووي ( ١٣/102ح1966).

همدغه شان خبره ابن عبدالبر- رحمه الله- هم په التمهيد( 168/20) کې کړې ده.

**دويمه فائده:** حديث کې واضح دي چې لږ عيب اونقصان باک نه کوي ځکه حديث کې لفظ د (البين) راغلی دی يعني چې عيب ښه ښکاره وي لږ ګوډوالی چې روغ مال سره پرې سم مزل کولي شي باک نه کوی همدغه شان دا نورخلورعيبوب(نقصانات).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۳» سوال: هغه کوم عیوب(نقصانات) دي چې قرباني ته ضرر نه رسوي؟

جواب: اول هرهغه عیب چې لږ وي هغه قربانۍ ته ضرر نه رسوي، هغه که دحیوان په هرځای کې وي، اودلیل پدې خبره باندې هغه حدیث دالبراء بن عازب-رضي الله عنه- دی.

دویم: (مقطوعة الذیل) یعني دکوم حیوان چې لکۍ کټ وي هغه هم نقصان نه لري لکه: ابن قدامة رحمه الله فرمائي: ( وَتُجْزِئُ الْبَتْرَاءُ ، وَهِيَ الَّتِي لاَ ذَنَبَ لَهَا ، سَوَاءٌ كَانَ خِلْقَةً أَوْ مَقْطُوعًا، وَمِمَّنْ لَمْ يَرَ بَأْسًا بِالْبَتْرَاءِ ابْنُ عُمَرَ وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ وَالْحَسَنُ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَالنَّخَعِيُّ وَالْحَكَمُ).المغني( ۱۳/۳۷۱).

ژباړه : په هغه حیوان باندې هم قربانئ جائزه ده چې لکۍ نلري که هغه پیدائشي نوی اویا کټ کړي شوي وي اودغه جواز د ابن عمر- رضي الله عنه، او ابن المسیب، او الحسن، او سعید بن جبیر، او النخعی او الحکم- رحمهم الله نه هم نقل دی.

بیاهغه درې وجې دجواز ذکر کړې دي فرمایی:

۱/ دلکۍ نشوالي غوښې ته هیڅ نقصان نه رسوي ځکه هغه نه خوړل کیږي.

۲/ مُخِل بالمقصود هم نده.

۳/ په شرع کې ترې منعه هم نده راغلي اودا دریم دلیل یوازې هم په جواز باندې پوره دي. او ابن عثمین رحمه الله په الشرح الممتع( 430/7 ) کې او نورو علماؤ هم دغسي خبره کړې ده.

دریم:(مکسورة القرن) یعني هغه حیوان چې ښکر ئې مات وي هغه هم قربانۍ ته ضررنه رسوی، ځکه ددغې نه شرع منعه نده کړې، اومُخِل بالمقصودهم ندې، ځکه نه خوړل کیږي، اونه غوښې ته نقصان رسوي.

ابن عبدالبر- رحمه الله- په الاستذکار(5/۲۱۹،۲۱۸) کې فرمائي: ( العلماء مجمعون على أنَّ الجمَّاء ( وهي التي لم يُخلق لها قرنٌ) جائزٌ أن يضحَّى بها، فدلَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



إجماعُهم هذا على أنَّ النقص المكروه هو ما تتأذَّى به البهيمةُ وينقص مِن ثمنها ومِن شحمها، وإذا جازت التضحية بالجمَّاء فلأَن تجوز بالعضباء التي ذهب أكثرُ مِن نصف قرنها مِن باب أَوْلى).

خلاصه دعبارت داده: دعلماؤ اجماع ده چې په بې ښکرو (یعني کونډې) حیوان باندې قرباني جائز ده نوهرکله چې په کونډې مال باندې په اجماع دمسلمانانو سره جائزه وي، نومات ښکر والا باندې خو په طریقه اولی باندې جائز ده.

همدغه شان د جواز قول امام نووي-رحمه الله- په شرح المهذب (۸/۳۷۳) کې او وغیره نورو بی شمیره علماؤکړی دی.

ځلورم: (مشقوقة الأذن): **یعني هغه حیوان چې غوږ ئي کټ**، یا څیري، او یا سوری وي نو دجمهورو (یعني ډیرو اوګټو) علماء اسلام په نیزباندی قرباني پرې جائزه ده اودا دجمهور علماؤ مذهب مونږته راجح او بهتره ښکاری دیو څو دلائلو په بنیاد:

۱- **دلیل:** حدیث د براء بن عازب رضي الله عنه کې نبي صلی الله علیه وسلم تخصیص دڅلور عیوب(نقصاناتو) کړي دی (أربع لاتجوز فی الضحایا...) که چیرته نقصان دغوږ مانع وایې نوخامخا به نبي صلی الله علیه وسلم ذکر کړی وائي.

او که څوک دلږ معرفت خاوند هم وی نو هلته په حدیث کې دڅلورو نقصاناتو دتخصیص په مقصد او معنی باندی پوهیږی.

۲- **دلیل:** دغوږ نقصان دهغې څلورو عیوب سره نه مساوي دی او نه أقبح اوزیات دی دهغی نه چې پرې قیاس کړی شي.

۳- **دلیل:** عبید بن فیروز د براء بن عازب رضي الله عنه نه (کوم چې راوي دحدیث دي) تپوس وکړ چې (إني أكره أن یکون النقص فی القرن والأذن. فقال له: ماکرهتَ فَدَعْه ولاتحرّمه علی أحد). ژباړه: عبید وویلی زه ښه نه ګڼم چې دمال په ښکراوغوږ کې نقصان وي؟ صحابي ورته جواب کې وویل: ته چې څه بد ګڼې هغه دی خپل کاردی خو په نوروخلکو ئي مه حرامه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو مونږ** هم هغه ورونو ته وايو چې  وايي پـدی بانـدی قربـانۍ نـه کيـږی ددغـه جليل القدر صحابي په نصيحت باندې عمل وکړی، اوزه وايم دغوږ نقصـان لا څکي بلکي دخرمني ويختان دي ورله هم وشماري خوليکن نور مسـلمانان دي په مصيبت او مشقت کې نه اچوی، او دالله تعالی هغه ښکلی او اسان ديـن دی بې دليله دالله تعالی په بندګانو نه سختوي.

**۴- دليل:** کوم روايت چې د علي رضی الله عنه دی پدې مسأله کې (أمرنا رسول اللـه صلى الله عليه وسلم أن نستشرف العين والأذن...). پديکې حجة بن عدي راوي دي او هغه مُتَکَلَّم فِيه دی.

**۵- دليل:** دغه روايت که صحيح هم شی لکه الشيخ الألباني- رحمه الله- پـه إرواء الغليل( ۳٦۲/۴ )کـې اوابـن الملقّـن پـه البـدرالمنير( ۲۹۱/۹ )کـې صحصـح کـړی دی، اومونږ ترې معنی دعدم جواز واخلو  نوبيـا خـو ښـکاره تعـارض(ټکراؤ) راځـي دحديث دالبراء بن عازب-رضی الله عنه-سره، ځکه حديث دعلی رضی اللـه عنه نـه خوبيا معلوميږی چې دستن دسوري په مقدار عيب هم وي قربـانی پـري جـائزه نده، او حديث دبراء بن عازب رضی الله عنه کې لفظ د ( البـيّن عورهـا ) راغلـی دی يعني عيب(نقصان) هغه وخت معتبر دی چې کله ښه ښکاره او واضـح وي، نـو ددی حديث نه خومعلوميږی چې لږ عيب باك نکوي، اوس که چيرتـه روايـت دعلی رضی الله عنه په ظاهر واخلو نو روايت دبراء بـن عـازب رضـی اللـه عنـه، کـوم چـې دټول أمت پری اتفاق او اجماع ده  هغه به درنه بيا پاتی کيږی.

نو اوس به يا حديث دبراء نه منی اوانکاربـه تـری کـوی اويـا بـه هغـی معنـی او تطبيق ته غاړه کږدي کومه چې جمهور علماء اسلام کړی ده چې دغه نقصانات اوعيوب قربانۍ ته ضررنه رسوي.

**٦- دليل:** دعلي رضی الله عنه په روايت کی خو هيڅ دليل په عدم جواز باندی نشـته بلکی هغی کي دا دي چې هغه مال اختيار کړی کوم چې پـه سـترګو اوغوږونـو کي عيب نلري داخويې ندي ويلی چې دکوم مال په غوږ کـی نقصـان وی هغه مه اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوددينه استدلال په عدم جواز کولو باندې ډېر بعيد دی. او زمونږ مسأله هم دلته دجواز اودعدم جواز ده، نه د أولى او عدم أولى.

۷- دليل: کومو محدثينو چې روايت د علي رضی الله عنه ذکر کړی دی هغوی ټولو په باب د مکرهاتو کې راوړي دی (يعني أولى أوعدم أولى مسأله ده نه دجواز أودعدم جواز) لکه امام أبوداود په کتاب الأضاحي: باب مايُکره من الضحايا (۲۸۰۲)، اوابن ماجه په کتاب الأضاحي: باب مايُکره أن يُضحى به (۳۱۴۴)، اوامام ترمذي په کتاب الأضاحي: بابا مايُکره من الاضاحي.

نوآيا دغه ټولو محديثنو کومو چې دغه حديث نقل کړی دی، هغوی په معنې د دې حديث باندی نه پوهيدل چې دعدم جواز په ځائې په مکروهاتو کې ذکرکړي دی؟!

نه نه بلکه هغوی په دواړه احاديثو کې تطبيق کړی دی چې په دواړو باندې عمل وشي، نوحديث د براء بن عازب رضی الله عنه په عدم جواز دلالت کوی اوحديث دعلي رضی الله عنه په کراهيت يعني أولى اوعدم اولي باندي دلالت کوی.

۸- دليل: دمحدثينو نه بعد دڅلورو مذهبونو فقهاؤ -رحمهم الله- هم دغه حديث په باب د مکروهاتو (يعني أولى اوغير أولى) کې ذکرکړی دی چې مونږ به دهغوی اقوال په ډېر اختصار سره ذکر کړو:

## اول مذهب حنفي:

دأحنافوپه نيزباندی چې دحيوان غوږ د دريمی حصي نه کم هم نقصاني ؤو نو قرباني پري جائزه ده. وګوره: حواشي على ملتقى الأبحر(۱۹/2).

## دويم مذهب مالکي:

ابن عبدالبر-رحمه الله- په الکافی فی فقه أهل المدينه (۴۲۱/۱) کې ليکی دي: (ولابأس بالشق اليسير فی الأذن وکذلک القطع اليسير...) يعني باک نه کوی که غوږ لږ شليدلی وی، او يا کټ شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم مذهب شافعي:**

امام نووى الشافعي- رحمه الله - په المجموع شرح المهذب ( ۳۷۳/۸ ) کې دغوږ وغيره ذکرنه بعد أخير کې فرمائي: ( فان ضحّى بما ذکرناه أجزأه؛ لأن ما بها لايُنقَص من لحمها ). نوداهم وائي چې قرباني پري جائزده .

**څلورم مذهب حنبلی:**

ابن قدامة الحنبلی- رحمه الله - په المغني ( ٦٢٦/٨ ) کې فرمائي: (... ويحصل الاجزاء بها، لا نعلم فيه خلافاً ولأن اشتراط السلامة من ذلك يشق إذلا يكاد يوجد سالم من هذا كلّه). نودا گوره فرماى چې د دې په جوازکې مونږته دچاهيڅ خلاف معلوم ندی، يعني داخو يوه اتفاقی مسأله ده اوبيا وايي چې دغوږ روغوالی شرط لګول خو مسلمانان په پوره مشقت او زحمت کې اچوي ځکه ددغسې عيبونه خو اکثر مالونه خالي نوي.

**۹- دليل: همدغه شان ددی عصر لوی لوی علماؤ** فتوی هم په جواز باندې ده لکه الشيخ السعدی- رحمه الله، او ابن باز- رحمه الله - په فتاوى نورعلى الدرب (۱۷/ ۳۵۵ )کی، او ابن عثيمين- رحمه الله- هم په فتاوى نورعلى الدرب ( ۱۳/۲ )کې ذکر کړي دي اوبيا فرمای: ( ولافرق بين أن يكون القطع قليلاً أو كثيراً حتى لوقطع القرن كله أوالأذن كلها أوالذيل كله فانها تجزئ).

ژباړه: هيڅ فرق نشته که دمال ښکر، يا غوږ اويا لکۍ تولـه کټ وی اويا لږه، قرباني پری جائزه ده - اوپدی جمله کی دابن عثيمين رحمه الله رد ته اشاره هم ده په هغه فقهاؤ باندی چې مقدار دثلث، نصف وغيره ذکرکوی ځکه په دغه مقدار باندی دليل نشته. نو که دمال لکۍ، ښکر اوغوږ لږ ياټول کټ وی قرباني پری جائزه ده .

**نومحترمو:** مونږ داسی نه وايو چې مسلمانان دی هغه مالونو پسی وګرځی چې لکۍ، غوږ او ښکر يی کټ وی بلکی مونږ وايو که څوک په منطقه(علاقه) کی بل مال پيدا نکړي اويا دا مال په صحت اوغوښه کی ښه وی دهغه مال نه چې يوه يوه ليشت غوږونه لری نوبيا پدغی مال باندی قرباني بلکل صحی ده، اوپدغه عيب سره ثواب کی هيڅ کمی نه راځی، ځکه دغه عيوب مُخِل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالمقصود ندی، اونه په حیوان کی مطلوب دی ځکه دحیوان غوړونه انسانان نه خوري، اونه تري په دين اسلام کی منعه راغلي ده.

## «۴» سوال: خصي مال باندي قرباني کول سه حکم لري؟

جواب: بلکل جائزده، ابن ماجه (رقم 2548) کي دأبو هريرة-رضی الله عنه- څخه روايت دی چي نبي صلی الله عليه وسلم دوه ګډان د قرباني لپاره واخستل أو مَوجُوءَيْن ؤو يعنی خصين، ؤو.

## «۵» سوال : آيا يوه قرباني دټولي کورنی څخه صحيح کيږي کنه؟

جواب: بلکل صحصح کيږي: عطاء بن يسار فرمائي: ما د أبو أيـوب الأنصـاري رضي الله عنه نه تپوس وکړ چي تاسوبه د نبي صـلی اللـه عليـه وسـلم پـه زمانـه کـي قرباني څنګه کوله ؟ هغي وفرمايل: (كان الرجل في عهد النبي صـلى اللـه عليـه وسلم يضحي بالشاة عنه وعن أهل بيته فيأكلون ويطعمون) صححه الشيخ الألبـاني في صحيح سنن ابن ماجه(۲/۲۰۳).

يعني يوسړی به اختری په يومال باندی دخپل ځـان اودخپـل ټـول کورنـه کـوو اوخپله به ئي تري هم خوراک کوو، او فقراؤ ته به يی هم پکی ورکوو.

## «٦» سوال: دمړي نه قرباني کول څه حکم لري؟

جواب: دمړي څخه قرباني کول په دري ډوله ده.

۱ـ يوشخص دخپل ځان څخه قرباني وکړي، ورسره نيت دخپلي ټولي کـورني وکـړي (مـړو ژونـدو دواړوڅخـه) نـودا جـائزه ده ا و ثـواب ئي مـړو ژونـدو تـه رسيږي، دليل پدي خبره باندی د نبي صلی الله عليه وسلم عمل دی چي هغه به دخپل ځان او دخپل اهل بيت څخه قرباني کولـه، او دهغـه پـه اهـل بيـت کـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه په ژوند مبارك كي ډير اقارب(خپلوان) وفات شوي ؤو، نو داهل بيت لفظ مړو اوژوندو دواړو ته شامل دى.

٢ـ صورت دا دى چي يو كس په ژوندون وصيت وكړي چى زما د وفات نه روستو ماپسي قرباني وكړى نو بيا دهغه نه مستقله قرباني كول واجب ده، پدي شرط چي د وصيت كونكي په مال كى به وى، او كه دهغه نه خپل مال پاتى نوي، نو بياپه ورثوباندى واجب نده، دليل پدي خبره قول دالله تعالى دى ((فمن بدّله بعد ماسمعه فإنما إثمه علي الذين يبدّلونه إن الله سميع عليم)) سورة البقرة ( ١٨١).

٣ـ قسم: دمړي نه مستقله قرباني كول دي پداسې حال كي چي مړي په ژوند وصيت نوى كړى، نوپدي صورت كي دعلماؤ دوه قوله دي:

**أول قول:** په عدم جواز دى اودا په أئمه أربعه كي د امامشافعي- رحمه الله- نه نقل دى او امام مالك- رحمه الله- په جواز قائل دى ليكن مع الكراهة، او دليل د دوى دادى چي دغه كار دنبي صلى الله عليه وسلم اودصحابه كرامو- رضوان الله عليهم- څخه نه دى نقل، كه چيرته جائز وائي نوهغوي به كړي وايي.

**دويم قول:** دجمهورو (دډيرو) علماؤ دى چي په هغي كي (مذهب حنفى، مذهب مالكي اومذهب حنبلي هم شامل دى) ددوى په نيز باندي جائزده اوثواب يي مړى ته رسيږى.

شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه الله په مجموع الفتاوى ( ٣٠٦/٢٦ )كي فرمائي: (وتجوزالأضحية عن الميت كما تجوز الحج عنه والصدقة عنه). ژباړه: دمړي نه قرباني كول داسي جائزه ده لكه څنګه چي حج اوصدقه كول دمړي نه جائز دي.

**همدغه شان** پدي عصر كيابن باز- رحمه الله- په مجموع فتاوى و مقالات ابن باز ( ١٨٩/١٨ ) كي، او ابن عثيمين- رحمه الله- په مجموع فتاوي ورسائل( 120/25 )كي او دسعودي هيئة كبار علماؤ په فتاوى اللجنة الدائمة ( ٤١٧/١١ )كي دجواز فتوى وركړي ده.

اودامقام د اختصار دى پدي وجه باندي د دوى دلائل ذكر كولى نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۷» سوال: د قربانۍ کونکي دپاره څه کول پکار دي؟

جواب : کله چې د ذوالحجه میاشت داخله شي نو هغه ته پکار دي چې خپل نوکونه او ویختان (دسر،بریت، اود نور بدن) کټ نه کړي ځکه حدیث کې ترى منعه راغلي ده :

(( إِذَا رَأَيْتُمْ هِلاَلَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ ، فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ )) رواه مسلم (197). ژباړه: نبي صلى الله عليه وسلم فرمائى کله چې تاسو میاشت د ذوالحجې ولیده اوکوم یوتن په تاسو کې د قربانۍ نیت کړى وي نوهغه دي خپل ویختان اونوکان نه کټ کوي.

## «۸» سوال: څو ورځو پوري قرباني کولی شي؟

جواب: راجح قول پدې کې دا دی چې د اختر ترڅلورمې ورځې پورې کولي شي یعني یوسړی کولی شي چې خپله قرباني داختر په دویمه، دریمه اوڅلورمه ورځ کې ذبحه کړي. دغه قول دعلي بن أبي طالب، جبیر بن معطم او ابن عباس رضي الله عنهم دی او ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد( ۳۱۹/۲ )کې فرمائي: ( وهومذهب إمام أهل البصرة الحسن و إمام أهل مكة عطاء بن أبي رباح و إمام أهل الشام الأوزاعي وإمام فقهاء أهل الحديث الشافعي واختاره ابن المنذر).

## «۹» سوال: که څوک د قربانۍ وس نه لري نودهغی دپاره قرض کولی شی کنه؟

جواب: که طاقت د قرض ختمولولري نوکولی شي یعني جواز لري ، اوکه بیا وس نه لري نو جائزنده چې قرض وکړي. وګوره د زیات تفصیل دپاره: مجموع الفتاوى لابن تیمیه (۳۰۵/۲۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۰» سوال: آیه د قربانۍ مال په بل مال باندې بدلولی شي کنه؟

جواب: بدلولی شي چې کله د قربانۍ مال نه غوره وي، دغه قول دجواز په تابعينو کې دعطاء، او مجاهد، اوعکرمه نه اوپه أئمو کې د امام أبوحنيفه، امام مالك، امام أحمد، او امام محمد-رحمهم الله- څخه نقل دی. وګوره: المغني لابن قدامة (۸/۴۳۷).

## «۱۱» سوال: په وخت د ذبحه کې سهوا د بسم الله دهيريدلو څه حکم دی؟

جواب: که چيرته سهواً د مسلمان نه بسم الله پاتي شي نو په راجح قول د اهل علمو کې دهغه مذبوحه حلاله ده، اودغه قول دامام شافعي، اوابن عبدالبر، اوابن قدامة، اوامام قرطبي أود الشيخ محمد بن عبدالوهاب رحمهم الله اوداسې نورو أئمونه نقل دی.

**قال الإمام الشافعي**- رحمه الله- في كتابه الأم (۲/۲۲۷): (لونسي التسمية في الذبيحة أكل لأن المسلم يذبح على اسم الله عزوجل وإن نسي).

**قال ابن عبدالبر**- رحمه الله- في كتابه الاستذكار (۵/۲۴۹ح۱۰۰۷): (إن التسمية على الذبيحة سنة مسنونة لا فريضة ولوكانت فرضًا ماسقطت بالنسيان لأن النسيان لايسقط ماوجب عمله من الفرائض).

**قال ابن قدامة** - رحمه الله- في المغني (۸/۳۸۹): (ولنا قول ابن عباس: من نسي التسمية فلا بأس ...الخ).

**قال القرطبي**- رحمه الله- في تفسيره (۷/۵۰): (وأما الناسي فلا خطاب توجه إليه إذ يستحيل خطابه فالشرط ليس بواجب عليه). اوداسې نوروعلماؤهم ليکلی دي چونکه دامقام د تفصيل ندي، ليکن مونږ ته ددې قول درجحان سره هم احتياط يدي کې ښکاري چې ونه خوړل شي؛ ځکه ايت پـه نهـى کـې عـام دی، والله أعلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «۱۲» سوال: د ذوالحجې میاشتې أوله لسیزه څه فضیلت لري؟

جواب: ددغې لسو ورځو ډیر فضائل دي اوپه قران کریم کې هم ورته اشاره شوي ده او په حدیث کې راغلي ((مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرِ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ ! وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟! فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، إِلا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ)).

ژباړه: داسي ورځې نشته چې نیک عمل پکې الله عزوجل ته ډیر خوښ وي د ذوالحجې دلسو ورځونه، صحابه کرامو وفرمائل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دجهاد نه هم زیات خوښ دی الله تعالی ته؟ هغه وفرمائل: آو، مګرهغه کس چې خپل جان اومال سره وځي او هیڅ څیز واپس نه کي یعني شهید شي.! محترمو: مؤمن دی پدې اجر ثواب کې سوځ وکړی.

## «۱۳» سوال: هرکله چې د ذوالحجې اوله لسیزه دومره زیات ثواب لري نو کوم اعمال پکې ډیر بهتره دي چې مسلمان یې وکړي؟

جواب: هرنیک عمل کول لکه: نفلونه، تلاوتونه کول، کونډو یتیمانانوسره خیګړي کول.

دویم عمل: روژه نیول یو روایت امام أحمد، او أبو داود او نسائي نقل کړي چې نبي صلی الله علیه وسلم به نهه ورځې د دې میاشتې او دعاشوراء ورځ اودري ورځې په هره میاشت کې (۱۳-۱۴-۱۵) کې نیولی .

دریم عمل: تکبیرات (الله أكبر)، تهلیلات (لا إله إلا الله) او تحمیدات (الحمد لله) ویل حدیث کې راغلي : (( فأكثروا فيهن من التهليل والتكبيروالتحميد))، او امام بخاري- رحمه الله- نقل کړي چې ابن عمر، او أبو هريرة رضي الله عنهما به بازارته وتل په جهر به ئې تکبیرات ویل اودهغوئ دوجې نه به نوروخلکوبه هم په جهرتکبیرونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم عمل: دعرفې ورځ روژه نيول، حديث د مسلم کې راغلي ددوه کالو ګناهونه پرې معاف کيږي (دتير شوي کال اود راتلونکي کال) نودا لوی فضيلت دی.!

## داختر دورځ آداب

## «۱۴» سوال: اختر ورځ په څه طريقه ولمانځل شي؟

جواب: دغه په اسلام کې يوعظيمه ورځ ده بايد شرعي آدابو سره دخپل رب شکرپکې وشي، نوددغې ورځ يو څومختصرآداب په لاندې ډول دي:

۱- تکبيرات ويل اوهغه دعرفې ورځ نه شروع کيږي تر څلورمې ورځ دمازيګرپورې.

۲- داختر لمونځ نه مخکې غسل کول،عطرلګول، خائسته نوی او ياپاکې جامې اغوستل بغير داسراف نه، اوهرچه زنانه دي هغه به عيد ګاه ته ځې بغيردتبرّج ډول سينګار اوعطرونونه.

۳- دخپلې قربانۍ نه اول خوراک کول او دغه د نبي صلى الله عليه وسلم عمل ؤو چې اول خوراک به ئې دخپلې قربانۍ څخه کولو. وګوره: زادالمعاد لابن القيم(۴۴۱/۱).

۴- عيدګاه ته پيدل تلل که دچا عذرنوي.

۵- لاره بدلول د مستحباتو څخه دي يعني کورته واپس په بله لار راتلل.

## «۱۵» سؤال: د اختر مبارکي يوبل ته ورکول څه حکم لري؟

جواب: يوبل ته مبارکي ورکول يو مباح اوجائز کاردی اوپدې کې هيڅ محظور شرعي نشته، ديته بدعت ويل پدې دليل سره چې دا ثبوت نه لري، نودا ډيره کمزوري بې بنياده خبره ده ديوڅو وجونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- داهغه وخت بدعت ګرځي چي کله ورته سنت یامستحب وویـل شي ځکـه بیا دسنت اود استحباب دثبوت دپاره دلیل شرعي پکار وي، اوحـال دادي چـې دا یو دعاداتو څخه دی. اوزمونږ دا خـبره مبنـي ده پـه یـوعظیم أصـل داصـولو ددین باندي.

**هغه دا چې:** ( الأصل في جميع العادات القولية والفعليـة الإباحـة والجـواز، فـلا يحرم منها ولايكره إلا مانهى عنه الشارع أوتضمّن مفسدة شرعية ).

اوددي اصل او قاعدي دپاره قران کریـم او په احادیثو کې ډیر دلائـل او مثالونـه شته خودا مقام دهغي د ذکر ندي او خاصـکر علـماء دعلـم أصـولو پـه مسـتقلو کتابونو کې ذکر کړي دي.

ژباړه: اصل په ټولوعاداتو قولیه اوفعلیه (یعني په ویناګانو اوکارونو) کې اباحـت اوجواز دی هیڅ یوشیز ته حرام او مکروه نه ویـل کیـږي مګرهغـه وخـت چـې شرعي دهغی عمل نه منعه کړي وي اویا هغه عمل متضـمن وی مفسـده شرعیـه لره.

نودلته هم شرع ددی مبارکۍ ورکولونه منعه نده کړي اونه پکې کومه مفسـده او نقصان شته بلکه مصالح پکې شته مثلاً: مسلمانان یوبل ته دعاګـاني وکـړي، او یوبل ته زړونه نرمیدل، همدغه شـان دبعضـو یوبـل سره خـبرې نـوي، نـو دایـو ښکلي فرصت وي دخبرو کولو، او دا سې نور ډیر مصالح.

**سؤال:** که څوک اعـتراض وکـړي چـې عـدم ثبـوت دلیـل دی پـه عـدم جـواز باندي؟

او دا دبعضو خلکو غټ اوعُمْده دلیل دی پدې مسئله کې.!

**اول جواب:** دغه دشرع یوه عظیمه قاعده ده خوپه باب دعباداتو کې ده نـه پـه باب دعـاداتو کـې ځکـه اصـل پـه عبـاداتو کـې توقـف دی نوځکـه ثبـوت تـه ضرورت لري اوهرچې عادات دي نواصل په هغی کې اباحـت او جـواز دی نـو ځکه ثبوت ته حاجت نلری اوبیـا هـر قـوم خپـل عـادات لـري، اوهغـه کـه پـه اخترونو کې وی اوکه په نورو خوشالیانو کې وی او که په لباسونو کـې وی، اودا د الله تعالی یو دلوی فضلونو څخه دی په خپلو بندګانو باندې چی هرقوم ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل عادات رواجات مباح اوجائز کړي دي، کچیرته الله تعالی دا کارونه مباح اوجائز کړي نه وايی اومونږ يې صرف په هغه عاداتو باندې مکلف کړي وايې کوم چې دنبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وو مثلا دهغی وخت جامې او بوټان او څپلۍ وغیره چې بل قسم به نه ګرځوي نومسلمانان په څومره په مشقت کې وايې. **الغرض مطلب دادی** چې دغه قاعده صحيح ده خو په باب دعباداتو کې ځکه هرعبادت دلیل شرعي غواړي اوهرچې دامسأله ده نو دا دباب دعاداتو څخه ده، لکه څنګه چې مونږ نور دېرعادات په خوراک څښاک اولباس اوناسته پاسته کې اويا په خوشحالیانو وغیره تعاملاتو کې لرو خو څوک هغې ته بدعت ويلی نشي.

**دويم جواب:** دصحابه کرامو -رضوان الله عليهم- نه هم بعضې الفاظ نقل دی مثلاً: ((تقبل الله مناومنكم)) نو ډېره دتعجب خبره خو داده چې ددی الفاظو ويل په عربي کې جائز ګڼي اوکه چاپه پښتو ژبه کې وويل بيا بدعت ګرځي!، نوداکوم منطق اودليل دی!، ددي الفاظو معنی تقريباً يوه ده کوم چې پښتو کې ويل کيږي (لمونځ روژې أونيك اعمال دې قبول شه).

**دريم:** شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله نه هم داختر دمبارکۍ تپوس شوي دی او هغه هم دجواز فتوی ورکړې ده وګوره الفتاوی الکبری(٢/٢٢٨): (هَلْ التَّهْنِئَةُ فِي الْعِيدِ وَمَا يَجْرِي عَلَى أَلْسِنَةِ النَّاسِ:"عِيدُك مُبَارَكٌ " وَمَا أَشْبَهَهُ، هَلْ لَهُ أَصْلٌ فِي الشَّرِيعَةِ، أَمْ لا )؟

بيا هغه تفصيل دجواب کړی دی چې دا جائزه ده اوبيا فرماي چې دغه دجواز فتوی ددين دلوی لوی امامانو نه نقل ده لکه امام أحمد رحمه الله وغيره نه.

**څلورم:** همدغه شان ددي عصر لوی علماؤهم دجواز فتوی ورکړې ده لکه الشيخ العلامة السعدي- رحمه الله، او ابن باز- رحمه الله- په مجموع فتاوي ابن باز (١٣/ ٢٥) کې اوابن عثيمين- رحمه الله- نه په مجموع فتاوی ابن عثيمين(١٦/٢٠٨- ٢١٠) کې تپوس کړي شوی دی چې: ( ما حكم التهنئة بالعيد؟ وهل لها صيغة معينة؟ فأجاب: التهنئة بالعيد جائزة، وليس لها تهنئة مخصوصة، بل ما اعتاده الناس فهو جائز ما لم يكن إثماً. وقال أيضًا: التهنئة بالعيد قد وقعت من بعض الصحابة

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضي الله عنهم، وعلى فرض أنها لم تقع فإنهـا الآن مـن الأمـور العاديـة التـي اعتادها الناس، يهنيء بعضهم بعضاً ببلوغ العيد واستكمال الصوم والقيام ).

وسئل أيضًا: ( ما حكـم المصافحة، والمعانقة والتهنئة بعد صلاة العيد؟

فأجاب: هذه الأشـياء لا بـأس بهـا؛ لأن النـاس لا يتخـذونها عـلى سـبيل التعبـد والتقـرب إلى اللـه عـز وجـل، وإنمـا يتخـذونها عـلى سـبيل العـادة، والإكـرام والاحـترام، ومادامت عادة لم يرد الشرع بالنهي عنها فإن الأصل فيها الإباحة).

**خلاصه دعبارت:** ابن عثيمين - رحمه الله- نه دري تپوسه کړی شوی دي:

**أول:** داخترديمباركۍ حكم ؟ **دويم:** آيا دمبارکۍ دپاره کـوم خـاص الفـاظ دي چې سړی به صرف هغه وايي اوكه نشته؟ **دريم:** سټري مشي اوغاړه وركـول څـه حكم لري؟.

**هغه په جواب** کې ويلي دي چې د اخترمباركي اويوبل ته سـټرې مشيـ اوغـاړه وركول يومباح اوجائزعمل دی(دليل) ځکه دا دعاداتو څخـه دی، نـه دعبـاداتو نه او اصل دمسلمانانو په عاداتو كې اباحت اوجوازدی، همدغه شان ددې لپـاره دخاصو الفاظو تعين هم نشته بلكې دهرقوم خپل عادات او الفاظ وی.

**همدغه شان دمعانقه** (يوبل ته غاړه وركولو ) په باره کې الشيخ الألباني- رحمه الله- په سلسله صحيحة ( ١/٣٠٠ - ٣٠٢ حديث رقم ١٦٠) کې فرمـائي:( وأمّـــا الالتـزام ... والمعانـقة؛ فما دام أنّه لم يثبت النهـي عنـه في الحـديث كـما تقـدم؛ فالواجـب حينئذٍ البقاء على الأصل، وهو الإباحة، وبخاصّة أنه بـبعض الأحاديـث والآثـار، فقـال أنـس رضي الله عنه: كـان أصـحاب النبـي صـلى اللـه عليـه وسـلم إذا تلاقـوا تصافحوا، فإذا قدموا من سفرٍ تعانقوا).

رواه الطبراني في الأوسط، ورجاله رجال الصحيح، كما قال المنذري (٣/٢٧٠)، والهيثمي (٨/ ٣٦).

ژباړه: په سټري مشی کې يوبل ته غاړه وركول په شرع کې ددينـه نـه منعه نـده ثابت اوهركله چې منعه تري نوي شـوي نوبيـا لازم داده چـې دامسـأله پـه خپـل اصل باندی باقی پاتي شی چي هغه اباحت اوجوازدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محترمو**: دایو څو مسائل ؤو په باب دقربانۍ او آداب د اخترکې، الله تعالی نه غواړم چې خالص دخپلی رضا لپاره یی وګرځوي اوپه خپل دربارکې قبـول یــ کړي،او دټولو مسلمانانو نه دی مالی اوقولي او فعلي اعمال قبول کړی، إنـه وليّ ذلک والقادرعلیه ، وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

❖ **نوټ :** که کوم مسلمان غواړي چې ددغې خیر په نشر ولـو کـې خپـل ځـان برښمن کړي ، او دلا زیاتو مسلمانانو دخیر او د رهنمایــ سـبب وګرځـی، نو کولي شی چې دخپل وس مطابق دا چاپ کړي اومسلمانانو ته یی توزیع کړي (یعنی زمونږ دطرف نه کوم مانع نشته، لیکن پدې شرط چې پـدې لیکلـوکې بـه کوم زیادت او نقصان نه کوي).

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**